## د عربي دولتونو لخوا د یهودي رژیم ملاتړ او د غزې خلک پرېښودل

## (ژباړه)

سره له دې چې د صهیونیستي رژیم پوځ په غزې تړانګه کې د بې‌ګناه ملکي وګړو په ورځنۍ تولوژنې، ظالمانه محاصرې، قصدي لوږې او نسل‌وژنې سره بوخت دی او لا هم دوام لري، خو ځینې بې‌مسوولیته عربي دولتونه په پټه یهودي رژیم او د هغوی پوځ ته خوراکي مواد استوي، په داسې حال کې چې یاد رژیم د دغو موادو له سخت کمښت سره مخ دی. بیا همدغه دولتونه اعلان کوي، چې دوی د غزې خلکو ته د خوراکي او روغتیايي مرستو په رسولو کې ناتوانه دي او له نړیوالې ټولنې غواړي چې د یهودي رژیم پر وړاندې ودریږي، د نسل‌وژنې مخه ونیسي، محاصره پای ته ورسوي او له مظلومانو سره مرسته وکړي.

له یهودي رژیم څخه د عربي دولتونو ملاتړ یو د نه منلو حقیقت ګرځېدلې دی او دا هغه وخت لا روښانه شو کله چې د یهودي رژیم د روغتیا وزارت اعلان وکړ، چې له اردن څخه د میوو او سبزیجاتو واردات درووي. دوی د دې پرېکړې لامل د یرموک سیند په اوبو او له هغه ځایه په واردېدونکو کرنیزو محصولاتو کې د کولرا باکتریا شتون بللی دی. دغه موضوع د دغو راپورونو د رښتینولي تصدیق کوي چې وايي، عربي دولتونه د یهودي رژیم ملاتړ کوي، په ځانګړې توګه د دوی د بریدونو پر مهال. دغه حقیقت هغه نظامونه هم رسوا کړل، چې په پټه له یهودي رژیم سره مرسته کوي او په ښکاره بیا د غزې خلک یوازې پرېږدي.

«د ابراهیمي تړونونو د سولې انستیتوټ» په نوم د یوې ادارې له راپور سره سم، چې د یهودي رژیم ملاتړې او په امریکا کې مېشت ده، د ځینو عربي هېوادونو لخوا د یهودي رژیم د پیاوړي سوداګریز ملاتړ ستاینه شوې ده. دغه راپور څرګندوي چې د ۲۰۲۳م کال په وروستیو درېیو میاشتو کې یهودي رژیم ته د غربي هېوادونو صادرات ۱۸ سلنه کم شوي دي، خو د عربي هېوادونو صادرات بیا یوازې ۴ سلنه را ټیټ شوي دي.

د دغه راپور له مخې یهودي رژیم ته د مصر صادرات ۱۶۸سلنه زیات شوي او د غزې پر وړاندې د یهودي رژیم د برید له پیل راهیسې له مراکش څخه واردات ۲۰۰ سلنه زیات شوي دي. همدارنګه د یهودي رژیم د مرکزي احصایې اداره څرګندوي، چې د مصر، اماراتو، اردن او مراکش صادرات دغه اشغالګر دولت ته د غزې د جګړې په جریان کې څومره زیات شوي دي. یوازې په مې میاشت کې یهودي رژیم ته د مصر صادرات شاوخوا ۲۵ میلیونه ډالره وو، په داسې حال کې چې د اماراتو صادرات د روان کال په لومړیو پنځو میاشتو کې ۱.۲ میلیارد ډالرو، د اردن صادرات ۱۲۹.۱ میلیون ډالرو او د مراکش صادرات ۷.۴ میلیون ډالرو ته رسېدلي دي.

د عبري ژبې «واللا» ویب‌پاڼې هم تایید کړې، چې امارات د سعودي او اردن له لارې حیفا بندر ته ۲۰۰۰ کیلومتره اوږد ځمکنی پل جوړ کړی، ترڅو سوداګریز مالونه د حوثیانو د هڅو د ناکامولو لپاره ولېږدوي، چې د یهودي رژیم محاصره کول غواړي او د هغوی د بریدونو مخنیوی کوي.

د دې لپاره چې د یهودي رژیم لپاره د ځینو بې‌مسوولیته عربي دولتونو د ملاتړ او خدماتو اندازه درک شي، په داسې حال کې چې یهودي رژیم د جګړې د پایلو په اړه معلومات ډېر پټ ساتي، د «تایمز آف اسرائیل» ورځپاڼې د اپریل په میاشت کې یوه مهمه او

خطرناکه مقاله تر دغه سرلیک «د یهودي رژیم د بشري مرستو اداره د جګړې د پایلو له امله د خوراکي بحران د هوارولو لپاره له فصح اختر څخه وړاندې مداخله کوي» لاندې خپره کړه.

دې مقالې د یهودي رژیم د خوراکي موادو د کمښت او د جګړې د پایلو له امله د بیو د زیاتوالي ستونزې په ډاګه کړې، چې د فلسطین د مقاومت لخوا د غزې پر شاوخوا ښارګوټو باندې د بریدونو په پایله کې رامنځته شوې وې. دغه ورځپاڼه لیکي چې د حماس بریدونو د یهودي رژیم کرنیز سکټور فلج کړی دی.

د لومړي ځل لپاره دغې ورځپاڼې د کرنیز سکټور د زیانونو په اړه د اکتوبر په ۷مه رڼا واچوله او اعلان یې وکړ چې یهودي رژیم خپل ۴۰ سلنه کرنیز کاري ځواک او ۳۰ سلنه کرنیزې ځمکې له لاسه ورکړې دي؛ ځکه د یاد رژیم د کرنیز مرکز (د غزې شاوخوا سیمه) د جګړې، مرګ او ویجاړیو په سیمه بدله شوې ده.

د یهودي رژیم نږدې ۲۰ سلنه کرنیزې ځمکې د غزې شاوخوا سیمه کې موقعیت لري. د اکتوبر په نیمایي کې په «ګلوبس» ورځپاڼه کې خپره شوې مقاله د یهودي رژیم د کروندګرو د اتحادیې له مشر څخه په نقل سره څرګندوي، چې د یهودي رژیم ۷۵ سلنه سبزیجات، ۲۰ سلنه مېوې او ۶.۵ سلنه شیدې له غزې شاوخوا سیمې څخه برابرېدلې، چې دا ټول تولیدات د اکتوبر له اوومې نېټه وروسته بند شوي دي.

**دغو ټولو زیانونو کولی شوی چې بنیامین نتانیاهو یې د غزې له ویجاړولو او د ملکي وګړو له وژلو منعه کړی وی، که بې‌مسوولیته عربي دولتونو بدیل خوراکي موادو نه وای چمتو کړي.**

په همدې وخت کې د یهودي رژیم اشغال شوې شمالي سیمه، چې د لبنان د حزب‌الله تر توغندیزو بریدونو لاندې راغلې وه، د یهودي رژیم یو پر درېیمه برخه کرنیزه ځمکه لري. د یهودي رژیم د کرنې او کلیو پراختیا وزارت د راپور له مخې، د جلیل او جولان سیمې شاوخوا ۷۳ سلنه د داخلي هګیو او چرګانو غوښې تولیدوي. دغه تولیدات هم بند شوي دي او دغه بندښت کولی شوی، چې د نتانیاهو لپاره د جګړې د بندولو په خاطر یو بل دلیل جوړ شوی وی؛ خو که چېرې د بې‌مسوولیته عربي دولتونو ملاتړ نه وای.

بلخوا، هغه کروندې چې زیربناوې یې له زیان یا ویجاړیو خوندي پاتې دي، تقریباً خپل ټول تولید یې بند کړی دی، ځکه کافي کاري ځواک نشته دی. د اکتوبر له اوومې وروسته شاوخوا ۱۰ زره بهرني کارګران له دغه هېواد څخه وتلي او ۲۰ زره فلسطیني کارګرانو ته اجازه نه ده ورکړل شوې، چې د یهودي رژیم سیمې ته داخل شي. دغه معلومات چې د یهودي رژیم د کرنې او کلیو پراختیا وزارت د احصایو پر بنسټ وړاندې شوي دي، دا ښیي چې په دغه رژیم کې کرنیز تولیدات تقریباً درېدلي دي.

**"دغه معلومات چې د یهودي رژیم رسنۍ یې ډېرکم خپروي، د جګړې له امله د دغه رژیم د خوراکي امنیت د زیان کچه او په دغه رژیم کې د جګړې د بندېدو احتمال په ډاګه کوي؛ خو که چېرې د بې‌مسوولیته عربي دولتونو ملاتړ نه وای".**

له بلې خوا، یهودي رژیم ته د مصر د دولت لخوا د میوو او سبزیجاتو د صادرولو له اجازې ورکول وروسته، د مصر وګړي د خوراکي توکو د بیو له لوړېدو سره مخ شوي دي. د مصر ولسمشر عبدالفتاح السیسي اعلان کړی، چې دغه هېواد هره میاشت

د اساسي خوراکي توکو د واردولو لپاره یو میلیارد ډالرو ته اړتیا لري. نړیوال بانک هم راپور ورکړی دی، چې د تېر کال له نیمايي راهیسې په مصر کې د خوراکي توکو بیې، چې ۶۵ سلنه خپلې خوراکي اړتیاوې واردوي، د نړۍ په کچه تر ټولو لوړې دي.

همدارنګه اماراتو چې د یهودي رژیم لپاره د خوراکي توکو د برابرولو لپاره یو ځمکنی پل (د غزې له جګړې سره د هممهاله ملاتړ لپاره) جوړ کړی دی، چې د خپلې اړتیا شاوخوا ۹۰ سلنه خوراکي توکي واردوي. دغه موضوع د ۲۰۲۴م کال په راپور کې د متحده ایالاتو د کرنې وزارت له لوري اعلان شوې ده.

بل خوا بیا اردن هم له هغو شتمنو هېوادونو څخه نه دی، چې د خوراکي موادو زیات تولید ولري. د نړیوالې سوداګرۍ سازمان په ۲۰۲۲م کال کې د دغه هېواد د خوراکي توکو له کمښت سره د مخ هېواد په توګه ډلبندي کړی و. اردن شاوخوا ۷۰ سلنه خپل اساسي خوراکي اړتیاوې واردوي. د کارنګي انستیټیوټ د ۲۰۲۱م کال د راپور له مخې، په ۲۰۲۲م کال کې د دغو وارداتو ارزښت ۲.۷ میلیارده ډالره و. (د متحده ایالاتو د کرنې وزارت د راپور له مخې)

نو دولتونه د یهودي رژیم ملاتړ لپاره ولې دومره ستر خطر مني، په داسې حال کې چې د خپلو وګړو اړتیاوې او حقوق له پامه غورځوي؟ په داسې حال کې چې د جګړې له امله د یهودي رژیم زیانونه له هغو کړاوونو سره هېڅ د پرتلې وړ نه دي، چې د غزې ۲.۳ میلیونه ملکي وګړي، ښځې او ماشومان یې د وژنې، لوږې او بمبارۍ له امله ګالي! بې مسوولیته عربي دولتونه بشپړه هڅه کوي، چې یهودي رژیم او د هغوی پوځ ته خوراکي مواد برابر کړي او په ورته وخت کې ادعا کوي، چې د غزې له مظلومانو سره مرسته نشیکولی.

**د الوعې تبصره:**

د عربي دولتونو لخوا د یهودي رژیم لپاره د خوراکي موادو برابرول داسې ملاتړ دی، چې هېڅ ډول توجیه نه لري. په حقیقت کې دا یوه ښکاره ملګرتیا او په تېري کې ګډون کول دي او په پایله کې د غزې له مظلومانو سره لوی خیانت بلل کېږي. دغه اقدام د جګړې له امله د یهودي رژیم د خوراکي امنیت زیانمنونکې کچه ښيي او دا څرګندوي چې جګړې د بېمسوولیته عربي دولتونو له ملاتړ پرته دوام نشوای کولی.

**د الوعې مجلې له ۴۶۱-۴۶۰ ګڼې څخه**

**ژباړن: اسرار تکل**